AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲/۰۴/۱۰

# د کورونا په تنهایي کي



کورونا راغلـه ،جـهـان په ډار دئ
که ئې ملت دئ، که ئې سرکـار دئ

منـتـظـر هر ځوک، و بد خبر ته
وای که نن نه وي، سبا مو وار دئ

*****

کورونـا نـه ده، انسان مـرګو ده
پـه تن وړوکې، پـه زور کي لو ده

غوړ و طبیب ته، تکیه و خدای ته
بـس همـدا لاره، د ژغـورېـدو ده

*****

پـرون جنـګـونه، نـن کـورونا ده
د آفــتــونـــو، راتــه سلا ده

د مــلــتــونـو، ګـټـمن هغه دي
چي ئـې د عقـل، سترګـه بـینا ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

*****

چي لس کلن وم، خــپــره وبا وه
لــه کنـدهــاره، پـورتـه غوغا وه

خــلــک نـاپــوه وه، جــهــل ځپلي
واکسـيـن و دوی ته، غـټـه ګناه وه

*****

تـر اويـا تـېـر يم ،بيا هغه شپې دي
لـه کورونا مـو، نـارې سورې دي

خلـک هـغـه شان، لا بې پـروا دي
هـمـاغــه آش دئ، هـغـه کاسي دي

*****

لـوی مـصـيـبت دئ، دنــيــا لـړزېږي
يو خړ سېلاب دئ، په خروش تېرېږي

زمـوږ کوتاه فکرو، ته خـو مو پام دئ
چي پـر چـوکـيـو، سـره جــنــګــېږي

*****

مـرض بـه تـېـر سي، بيا بـه روڼا سي
لــه وايـروسو بـه، پــاکــه دنـيـا سي

مـأيـوسه مـه سئ، د خـدای لــه رحمه
ورکـه خـوښـي بـه، بيـرتـه پيدا سي

*****

کـه نـــړی ډکــه، لـــه وايـــروسـونـو
بـل خـبـــر نـسـتـه، بې لــه مرګونو

راځـئ پــه ټـولـو، دا ږغ کــړو پـورته
چــي ژونــد تــعـبـيـر دئ، د امـيـدونـو

آشاوا ــ کانادا
۹ د اپريل ۲۰۲۰ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ